




**In His Official Office, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, Meets with Officials of the Heart Disease Treatment Project**

The meeting was also attended by Qari Abdul Wali Siddiqui, Deputy Minister for Finance and Administration Affairs; the Director of Finance; the Director General of Curative Medicine; the Director of Procurement; several other officials; and healthcare workers from the Cardiology Department of the Indira Gandhi Institute of Child Health.

During the meeting, the officials of the cardiac project shared their challenges, needs, and proposals with the Minister of Public Health.

The Minister of Public Health listened to their proposals and requests and instructed the relevant departments to promptly assess the needs of the project and take necessary measures to resolve them.
His Excellency Jalali emphasized that the Ministry of Public Health aims to expand and improve heart disease services across Kabul and other provinces to provide greater support in addressing citizens' health challenges.
During the meeting, it was proposed to form a joint technical working committee to evaluate current challenges and expand P services.
Following the proposal, a joint committee of relevant department representatives was established to advance the expansion of heart disease services.

**د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د زړه ناروغیو درملنې اړوند پروژې له مسؤلینو سره لیدنه وکړه**

په دې لیدنه کې چې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د مالي چارو رئیس، د معالجوي طب لوی رئیس ، د تدارکاتو رئیس ، یو شمېر نورو مسؤلینو او د کابل د اندراگاندي د ماشومانو درملنې ملي روغتون د زړه ناروغیو درملنې څانګې روغتیایي کارکوونکو ګډون کړی و.

په لیدنه کې د قلبي پروژې مسؤلینو خپلې ستونزې، اړتیاوې او وړاندیزونه د عامې روغتیا له وزیر سره شریک کړل.

د عامې روغتیا وزیر د هغوی وړاندیزونه او غوښتنې واورېدې او د اړوندو ریاستونو مسؤلینو ته یې لارښوونه وکړه چې د یادې پروژې اړتیاوې ژر تر ژره وڅېړي او د حل لپاره یې لازم اقدامات ترسره کړي.

ښاغلي وزیر ټینګار وکړ، د عامې روغتیا وزارت هڅه دا ده چې نه یوازې په کابل کې، بلکې د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د زړه ناروغیو اړوند خدماتو کچه لوړه او پراخه کړي، تر څو د هېوادوالو لپاره د روغتیایي ستونزو د حل په موخه لا زیاتې اسانتیاوې رامنځته شي.

همدارنګه، په دې لیدنه کې د موجودو ستونزو د ښې ارزونې او د خدماتو د پراختیا لپاره وړاندیز وشو، چې یوه ګډه تخنیکي کاري کمېټه جوړه شي.
د همدې وړاندیز پر بنسټ د اړوندو ریاستونو له استازو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه شوه، تر څو د زړه ناروغیو اړوند خدماتو د پراختیا برخه کې لازمې چارې پر مخ یوسي.




## د پروان ولایت په مرکز چاریکار ښار کې له یو شمېر درملتونونو او پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو

یاد نظارت د پروان عامې روغتیا رئیس، ډاکټر نیاز محمد مخلص او مل ټیم له لوري د چاریکار ښار اړوند یو شمېر درملتونونو او پلورنځیو څخه تر سره شو.

په دې نظارت کې 61 قلمه بېلا بېل له نېټې تېر او غیر مجاز درمل، 12 قلمه بېلا بېل روغتیایي وسایل او 20 قلمه بېلا بېل له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه د پروان ولایت عامې روغتیا ریاست ته ولېږدول شول.

## از یک تعداد دواخانه ها و فروشگاه ها در شهرچاریکار مرکز ولایت پروان نظارت صورت گرفت

داکتر نیازمحمد مخلص رئیس صحت‌عامه ولایت پروان و تیم همراهش، از یک تعداد دواخانه ها و فروشگاه ها در شهرچاریکار مرکز ولایت پروان نظارت نمودند.

در این نظارت، 61 قلم ادویه جات مختلف تاریخ گذشته و غیرمجاز، 12 قلم لوازم بهداشتی مختلف و 20 قلم مواد خوراکی تاریخ گذشته و بی کیفیت، جمع آوری و جهت هدر به ستاک ریاست صحت‌عامه ولایت پروان انتقال داده شد.

## Inspections Conducted at Several Pharmacies and Stores in Charikar City, Parwan Province

Parwan Public Health Director Dr. Niaz Muhammad Mukhlis and his team conducted inspections at several pharmacies and shops in Charikar city.

During these inspections, 61 items of expired and unauthorized medicines, 12 types of medical devices, and 20 items of expired or substandard food were collected and sent to the Parwan Provincial Public Health Directorate for proper disposal.



## هلمند ولایت کې 21 ټنه له نېټې تېر خوراکي توکي او درمل له منځه یووړل شول

دغه خوراکي توکي او درمل د هلمند عامې روغتیا ریاست مسؤلینو له لوري د یاد ولایت سنگین ولسوالۍ کې راټول شوي وو او د اړوندو ادارو د استازو په شتون کې له منځه یووړل شول.

## 21 Tons of Expired Food and Medicines Destroyed in Helmand Province

These food and medicines were collected by the Helmand Provincial Public Health Directorate in Sangin district and destroyed in the presence of representatives from the relevant authorities.

## د 1.1.1 د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د افغانستان لپاره د بريتانيا هېواد له ځانګړي استازي، ښاغلي ريچارډ لينزي سره پر ليکه ليدنه وکړه

په دې ليدنه کې د روغتيايي خدمتونو د وضعيت، د روغتيايي سيستم د پياوړتيا او پراختيا، د روغتيايي کارکوونکو پر ظرفيت لوړونې، د اکمال تخصص برنامې پر نوعيت او د نړيوالو ادارو له لوري د افغانستان روغتيايي سکتور سره د همکاريو په اړه بحث او خبرې وشوې.
د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د بريتانيا هېواد له لوري د افغانستان روغتيايي سکتور سره د مرستو او همکاريو څخه مننه وکړه او يادونه يې وکړه، چې په ځينو مهمو برخو کې د روغتيايي خدماتو د پراختيا لپاره لا زياتو همکاريو او مرستو ته اړتيا شته.
همدارنګه، ښاغلي وزير د ظرفيت لوړونې او يو شمېر نورو برخو کې د پراختيا اړوند خبرې وکړې.
بل لور، د افغانستان لپاره د بريتانيا ځانګړي استازي، ښاغلي ريچارډ لينزي د افغانستان د روغتيايي سيستم سره د دوامداره ملاتړ ډاډ څرګند ،او ويې ويل، بريتانيا به د افغانستان د روغتيايي سيستم د پياوړتيا پراختيا او دوامدار ملاتړ لپاره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

## محترم مولوی نورجلال جلالی وزیرصحت‌عامه 1.1.1 با محترم ریچارد لینزی نماینده ویژه بریتانیا برای افغانستان دیدار آنلاین برگزار کرد

در این دیدار، دوطرف در مورد وضعیت خدمات صحی، تقویت و گسترش سیستم صحی، بلندبردن ظرفیت کارمندان صحی، نوعیت برنامه اکمال تخصص و همچنان همکاری نهادهای بین‌المللی با سکتور صحی افغانستان بحث و تبادل نظر نمودند.
محترم مولوی نورجلال جلالی وزیرصحت‌عامه، از کمک‌ها و همکاری های بریتانیا با سکتور صحی افغانستان ابراز قدردانی نموده اظهار داشت که، برای توسعه خدمات صحی در برخی بخش‌های مهم، هنوز هم به همکاری‌ها و کمک‌های نیاز بیشتر است.
همچنان محترم وزیرصحت‌عامه، در مورد بلندبردن ظرفیت و توسعه برخی بخش‌های دیگر نیز صحبت نمود.
از سوی‌هم، محترم ریچارد لینزی نماینده ویژه بریتانیا برای افغانستان، بر ادامه حمایت دوامدار از سیستم صحی افغانستان تأکید نموده گفت که، بریتانیا به همکاری‌های خود برای تقویت، توسعه و حمایت دوامدار از سیستم صحی افغانستان ادامه می دهد

## IEA Public Health Minister Mawlawi Noor Jalal Jalali Holds Online Meeting with UK Special Representative for Afghanistan, Richard Lindsey

The meeting focused on the status of health services, strengthening the health system, enhancing healthcare workers' capacities, specialty programs, and collaboration with international partners in the health sector.

H.E Mawlawi Noor Jalal Jalali, expressed his gratitude to the United Kingdom for its assistance and cooperation with Afghanistan's health sector, noting that further support and collaboration are needed to expand health services in some key areas. Additionally, the Minister discussed matters related to capacity building and the development of several other areas.

Mr. Richard Lindsey, the United Kingdom's Special Representative for Afghanistan, assured continued support for Afghanistan's health system and stated that the UK would continue its cooperation to strengthen, develop, and sustain the country's health system.



**د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، نن ماښام په کابل کې د سرطان د تشخیص او درملنې ملي روغتون له روغتیایي خدماتو لیدنه تر سره او له روغتیایي مسؤولینو سره یې روژه ماتی وکړ**



**محترم مولوی نورجلال جلالی وزیر صحت عامه ا.ا.ا شام امروز در کابل از خدمات صحی شفاخانه ملی تشخیص و تداوی سرطان دیدار نموده و با مسوولان صحی این مرکز افطار کرد**

د روغتون څخه د لیدنې پر مهال له ښاغلي وزیر مولوي نور جلال جلالي سره په دې لیدنه کې د طبي شورى لوی رئیس ډاکټر فقیر محمد زیار ، د سرطان د کنټرول ملي برنامې مسؤولینو ، د تخصصي او ثالثي روغتونو رئیس او ځینې نورو مسؤولینو شتون درلود چې د روغتون د روغتیایي خدماتو پر وضعیت او اړتیاوو هر اړخیزې خبرې تر سره شوې، ښاغلي وزیر د روغتیایي کارکوونکو له هڅو او خدمتونو څخه مننه وکړه او د لا ښه خدمت سپارښتنې یې ورته وکړې.

همدارنګه، ښاغلي وزیر په بېلا بېلو څانګو کې د روغتون د داخل بستر ناروغانو له نږدې پوښتنه وکړه او د هغوی احوال یې واخیست.

ښاغلي وزیر وویل د هېواد اوسیدونکي مو ډېره اړتیا لري چې هغوی ته منظم او معیاري روغتیایي خدمات وړاندې شي هغه د روغتیایي کارکوونکو ستاینه وکړه چې د روژې مبارکې میاشتې په جریان کې هم خپلو هېوادوالو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.

د یادونې وړ ده چې د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ د روژې پر مهال له روغتیایي مراکزو د لیدنې موخه د روغتیایي کارکوونکو د هڅو قدرداني او د خدماتو له څرنګوالي څخه اګاهي تر لاسه کول دي تر څو د هېواد هر وګړي ته معیاري روغتیایي خدمات ورسیږي.

در جریان این دیدار، که محترم مولوی نورجلال جلالی را داکتر فقیر محمد زیار رئیس عمومی شورای طبی، مسوولان برنامه ملی کنترول سرطان، رئیس شفاخانه‌های تخصصی و ثالثی و شماری دیگر از مسوولان همراهی می‌کردند، در مورد وضعیت خدمات صحی و نیازمندی‌های شفاخانه به گونه همه‌جانبه گفتگو صورت گرفت.

محترم وزیر صحت عامه از تلاش‌ها و خدمات کارکنان صحی قدردانی نمود و برای ارائه خدمات بهتر به آنان هدایات لازم ارائه کرد.

همچنان، محترم وزیر صحت عامه از بخش‌های مختلف شفاخانه دیدار کرده و از بیماران بسترشده از نزدیک عیادت نمود و از احوال آنان جویا شد.

محترم مولوی نورجلال گفت که باشنده‌گان کشور نیاز جدی دارند تا خدمات صحی منظم و معیاری برای آنان فراهم شود. وی از کارکنان صحی که در جریان ماه مبارک رمضان نیز به هموطنان خود خدمات صحی ارائه می‌کنند، قدردانی نمود.

قابل یادآوری است که هدف از دیدارهای رهبری وزارت صحت عامه از مراکز صحی در جریان ماه رمضان، قدردانی از تلاش‌های کارکنان صحی و آگاهی از چگونگی ارائه خدمات است تا خدمات صحی معیاری به هر شهروند کشور فراهم گردد.

**Afghanistan's Minister of Public Health of the IEA, Mawlawi Noor Jalal Jalali, this evening visited the health services of the National Hospital for Cancer Diagnosis and Treatment in Kabul and joined health officials for iftar.**

During the visit, the Minister, Mawlawi Noor Jalal Jalali, was accompanied by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Director of the Medical Council, officials from the National Cancer Control Program, the Director of Specialized and Tertiary Hospitals, and several other officials. They discussed the hospital's health services, current situation, and needs.

The Minister appreciated the efforts of the health workers and called for further improvements to enhance healthcare services.

His Excellency Jalali also visited inpatients in different wards of the hospital, inquiring about their condition and well-being.

H.E Jalali said that the country's residents greatly need regular and standard healthcare services. He also praised the health workers for continuing to provide healthcare services to the people during the holy month of Ramadan.

Notably, the Ministry of Public Health's leadership visits health centers during Ramadan to recognize staff efforts and assess service quality, ensuring all citizens receive standard healthcare.





## د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی ریاست کې د ګډ نظارت د کړنو، ستونزو، ننګونو، لاسته راوړنو او راتلونکي پلان په اړه ناسته ترسره شوه

## ریاست عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه نشستی را در مورد فعالیت‌ها، مشکلات، چالش‌ها، دستاوردها و برنامه‌های آینده نظارت مشترک برگزار کرد

په دې ناسته کې چې موخه يې د نظارت پروسې لا پیاوړتیا او راتلونکي پلانونه په شفافه او اغېزمنه توګه پر مخ وړل او تطبیق کول وو، په کې د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئیس ډاکټر عنایت الله عنایت، د روغتیايي تاسیساتو د پلټنې رئیس مولوی محمودالله زاهد، د خصوصي سکتور د تنظیم او همغږۍ رئیس ډاکټر احمد خندان او د تخنیکي تیم غړو شتون درلود.

په یاده ناسته کې ګډونوالو د ګډ نظارت د کړنو، ستونزو، ننګونو، لاسته راوړنو، د نظارت پروسې د لا پیاوړتیا او د راتلونکي پلان د شفاف او اغېزمن تطبیق په اړه معلومات، تجربې، وړاندیزونه او خپل ارزښتناک نظرونه شریک کړل؛ څو نظارتي چارې لا اغېزمنې او روغتیايي قوانین په سمه توګه پلي شي.

در این نشست که هدف آن تقویت هرچه بیشتر روند نظارت، پیشبرد، تطبیق شفاف و مؤثر برنامه‌های آینده بود، داکتر عنایت الله عنایت رئیس عمومی نظارت و بررسی وزارت صحت‌عامه، مولوی محمود الله زاهد رئیس بررسی از تأسیسات صحی، داکتر احمد خندان رئیس تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی و اعضای تیم تخنیکی اشتراک داشتند.

اشتراک‌کننده گان در این نشست ، در باره فعالیت‌های نظارت مشترک، مشکلات، چالش‌ها، دستاوردها، تقویت روند نظارت و تطبیق شفاف و مؤثر برنامه‌های آینده معلومات، تجارب، پیشنهادها و دیدگاه های ارزشمند خود را شریک نمودند تا روند نظارتی مؤثرتر شده و قوانین صحی به‌گونه درست تطبیق گردد.

## A meeting at the Directorate General of Monitoring and Inspection of the MoPH reviewed joint oversight activities, challenges, achievements, and future plans.

The meeting, aimed at strengthening the oversight process and ensuring transparent and effective implementation of future plans, was attended by Dr. Enayatullah Enayat, Director General of Inspection and Monitoring; Mawlawi Mahmoodullah Zahid, Director of Health Facility Inspection; Dr. Ahmad Khandan, Director of Coordination and Regulation of the Private Sector; and members of the technical team.

Participants shared insights, experiences, and suggestions on joint oversight, challenges, achievements, and future plans to strengthen supervision and ensure proper enforcement of health regulations.



## په تېر یو کال کې د عامې روغتیا وزارت له لوري مرکز کابل او ولایتونو کې 1290 ټنه له نېټې تېر، غیر معیاري او غیر قانوني درمل، خوراکي توکي او روغتیايي محصولات له منځه وړل شوي دي

وزارت صحت‌عامه، در یک سال گذشته در مرکز کابل و ولایت‌های کشور 1290 تُن ادویه، مواد غذایی و محصولات صحی تاریخ‌گذشته، غیرمعیاری و غیرقانونی را از بین برده است

Over the past year, the Ministry of Public Health has destroyed 1,290 tons of expired, substandard and illegal medicines, food items and health products in Kabul and the provinces.





## د کابل ښار په یوولسمه او پنځلسمه ناحیه کې د خوراکي توکو له یو شمېر پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو

دغه نظارت چې د خوړو خوندیتوب لوی ریاست له لوري ترسره شو، په پایله کې یې د خوراکي توکو 28 قلمه محصولات او یو مقدار «کینگ» چاکلیټ راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي زیرمتون ته ولېږدول شول.

## از یک تعداد فروشگاه های مواد غذایی در ناحیه های یازدهم و پانزدهم شهر کابل نظارت صورت گرفت

این نظارت که از سوی ریاست عمومی مصئونیت مواد غذایی در این ناحیه ها صورت گرفت در نتیجه آن 28 قلم محصول غذایی و مقداری از چاکلیت کینگ جمع‌آوری شده و به خاطر از بین بردن به گدام مرکزی انتقال داده شد.

## Inspection Conducted at Several Food Outlets in the 11th and 15th Districts of Kabul.

As a result of this monitoring, conducted by the General Directorate of Food Safety in these districts, 28 types of food products and a quantity of King Coco were collected and transferred to the central warehouse for disposal.

Ministry of Public Health

## Health Message!

### Missed Vaccines for Children:

Dear fellow citizens, Children who have missed their vaccines should be taken to health centers and vaccinated on time, as this ensures a healthy and bright future for them. Children's health is a collective responsibility of families and the community.

Spokesperson, Information & Public Relation Directorate

د عامې روغتیا وزارت

## روغتیایي پیغام!

### د ماشومانو هېر شوي واکسینونه:

ګرانو هېوادوالو! هغه ماشومان چې له واکسین څخه پاتې شوي وي، مهرباني وکړئ روغتیایي مرکزونو ته یې یوسئ او پر وخت ورته واکسین تطبیق کړئ، ځکه دا کار د هغوی ښه او روښانه راتلونکی جوړوي. د ماشومانو روغتیا د کورنیو او ټولنې ګډ مسؤلیت دی.

د ویاند دفتر، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست





## د عامې روغتیا وزارت د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ په تالار کې د اغېزمنو تدریسي مهارتونو تر عنـــــــوان لاندې (Efficive Teaching Skill) لس ورځنۍ ورکشاپ پیل شو

د دغه ورکشاپ موخې د تدریسي مهارتونو پرمختګ، د ټولګیو مدیریت ته وده ورکول، د زده کړیالانو د فعال ګډون زیاتوالی، د تدریسي وسایلو لازمه کارونه، د نویو تدریسي مېتودونو معرفي کول، د استادانو د مسلکي ودې ملاتړ او ترمینځ یې د همکارۍ شبکې جوړول وو.

د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ رئیس، دوکتور محمد قاسم عادل د اغېزمنو تدریسي مهارتونو پر ارزښت او اهمیت هر اړخیزه وینا ترسره او د ورکشاپ پر روزنیزو موادو یې خوښي څرګنده کړه.

د یادونې وړ ده، چې یاد ورکشاپ به لس ورځې دوام وکړي او د مرکز او ولایتونو په کچه به پنځه ویشت تنه مسلکي استادان او روغتیايي کارکوونکي په کې ګډون لري؛ څو د روغتیايي علومو انستیټیوټونو د استادانو او روغتیايي کارکوونکو ظرفیت لوړ او ټولنې ته لازم خدمتونه وړاندې شي.

## ورکشاپ ده‌روزه تحت عنوان «مهارت‌های مؤثر تدریس (Effective Teaching Skill) در تالار انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر وزارت صحت عامه آغاز گردید

هدف این ورکشاپ ارتقاء مهارت‌های تدریسی، بهبود مدیریت صنف های درسی، افزایش مشارکت فعال محصلان، استفاده مؤثر از وسایل آموزشی، معرفی میتودهای نوین تدریس، حمایت از رشد مسلکی استادان و ایجاد شبکه همکاری میان آنان می‌باشد.

دوکتور محمد قاسم عادل، رئیس انستیتوت علوم صحی پوهاند غضنفر، در مورد اهمیت و ارزش مهارت‌های مؤثر تدریس سخنرانی همه‌جانبه ارائه نموده و از محتوای آموزشی این ورکشاپ ابراز خرسندی نمود.

قابل یادآوری است که این ورکشاپ به مدت ده روز ادامه خواهد داشت و در آن 25 تن از استادان مسلکی و کارمندان صحی از مرکز و ولایات اشتراک دارند تا ظرفیت استادان و کارمندان صحی انستیتوت‌های علوم صحی ارتقاء یافته و خدمات لازم به جامعه ارائه گردد.

## Ten-Day "Effective Teaching Skills" Workshop Begins at Professor Ghazanfar Institute of Health Sciences of the Ministry of Public Health.

The workshop aims to improve teaching skills, boost classroom management, increase student participation, introduce new teaching methods, support instructors' professional growth, and foster collaboration.

Dr. Mohammad Qasim Adel, Director of Professor Ghazanfar Institute of Health Sciences, highlighted the importance of effective teaching skills and praised the workshop's training materials.

Notably, the ten-day workshop will bring together 25 professional instructors and health workers from the center and provinces to enhance the capacity of health sciences institute staff and ensure essential services for the community.



**د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او مل پلاوي تېر ماښام په عاجل ابن سينا روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتيايي خدماتو له بهير څخه ليدنه ترسره او له روغتيايي کارکوونکو سره يې روژه ماتی وکړ**

د دغې ليدنې په ترځ کې د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال د روغتيايي کارکوونکو هڅې وستايلې او لازمې لارښوونې يې ورته وکړې، چې د ناروغانو د ستونزو په حل او د روغتيايي خدماتو کيفيت لوړولو کې لا زياتې هڅې ترسره کړي.

ښاغلي مرستيال وويل: (هر روغتيايي کارکوونکی مکلف دی، چې خپل ايماني او وجداني مسؤليت په غوره ډول اداء کړي او خپلې دندې په بشپړ صداقت سره ترسره کړئ).

همدارنگه، د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال له ناروغانو او مراجعينو سره هم ليدنه وکړه، د هغوی غوښتنې يې واورېدې او د بشپړې پاملرنې ډاډ يې ورکړ.

**محترم مولوی عبدالولی حقانی، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، و هیأت همراهش شام گذشته از روند ارائه خدمات صحی در شفاخانه عاجل ابن‌سینا دیدار نموده و با کارمندان صحی افطار کرد**

در جریان این دیدار، محترم معین عرضه خدمات صحی از تلاش‌های کارمندان صحی قدردانی نموده و رهنمودهای لازم را ارائه کرد تا در حل مشکلات بیماران و ارتقاء کیفیت خدمات صحی، تلاش‌های بیشتری انجام دهند.

محترم معین عرضه خدمات صحی گفت: (هر کارمند صحی مکلف است مسئولیت ایمانی و وجدانی خود را به بهترین شکل ادا نماید و وظایف خویش را با صداقت کامل انجام دهند).

همچنان، معین عرضه خدمات صحی با بیماران و مراجعین نیز دیدار کرد، خواسته‌های آنان را شنید و اطمینان داد که به مشکلات‌شان به طور کامل رسیده‌گی خواهد شد.

**The Deputy Minister for Health Services of the MoPH, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, along with his delegation, visited the IBN-E-Sina Emergency National & Specialized Hospital last evening to assess the delivery of healthcare services and joined Iftar with health workers.**

During the visit, the Deputy Minister for Health Services Delivery praised the efforts of health workers and urged them to further improve the quality of healthcare services and address patients' concerns.

H.E Haqqani said: «that every health worker is obliged to fulfill their moral and professional responsibilities in the best possible manner and to perform their duties with full honesty.»

He also met with patients and visitors, listened to their concerns, and assured them of full attention and care.



## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د روغتیا نړیوال سازمان له مشر، ډاکټر ایډوین سنیزا سلواډور او د یاد سازمان او نورو مسؤلینو سره د یو شمېر مهمو موضوعاتو اړوند لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې د روغتیایي خدماتو پر پراختیا، ظرفیت لوړونې، د سرطاني ناروغیو اړوند خدماتو د پراختیا، کړنو پر د مهال همغږۍ، د روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې شفافیت او د راتلونکو ناستو پر اجنډا، څرنګوالي، همغږۍ او اړوندو موضوعاتو بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتیا وزیر وویل:( زمونږ لپاره د عامې روغتیا وزارت ملي پالیسي او د ملي ستراتیژۍ سندونه مهم دي او باید د همدې سندونو پر اساس د عامې روغتیا وزارت لومړیتوبونو او اړتیاوو ته په نظر کولو سره روغتیایي خدمات تر سره او پروژې تطبیق شي).

ښاغلي وزیر همداراز، د روغتیا نړیوال سازمان له مسؤلینو څخه د شفافیت او ښې همغږۍ ته د زیاتې پاملرنې او اړینو اقداماتو غوښتونکی شو؛ تر څو د روغتیایي خدماتو کیفیت لوړ او خلک په سمه توګه روغتیایي خدماتو ته لاسرسی ولري.

بل لور، د روغتیا نړیوال سازمان مشر ژمنه وکړه، چې هڅه به یې د عامې روغتیا وزارت سره دوامداره همغږي او د وزارت له پالیسۍ او لومړیتوبونو سره سم د اړتیا وړ خدماتو تنظیم او وړاندې کول وي.

## محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامه ۱.۱.۱، با داکتر ادوین سنیزا سلوادور رئیس سازمان صحی جهان برای افغانستان و شماری از مسوولان این سازمان و سایر نهادها در دفتر کارش دیدار کرد

در این دیدار در مورد گسترش خدمات صحی، ارتقاء ظرفیت، توسعه خدمات مربوط به بیماری‌های سرطانی، هماهنگی در جریان فعالیت ها، شفافیت در ارائه خدمات صحی و در مورد اجندای نشست‌های آینده، چگونگی هماهنگی و سایر موضوعات مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم وزیر صحت عامه گفت: «برای ما پالیسی ملی وزارت صحت عامه و اسناد استراتیژی ملی بسیار مهم است و باید بر اساس همین ،اسناد، با در نظر داشت اولویت‌ها و نیازمندی‌های وزارت صحت عامه خدمات صحی ارائه و پروژه‌ها تطبیق گردد.

همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه از مسوولان سازمان صحی جهان خواست تا به شفافیت و هماهنگی بهتر توجه بیشتر نموده و اقدامات لازم را انجام دهند، تا کیفیت خدمات صحی بلند رفته و مردم بتوانند به گونه مناسب به خدمات صحی دسترسی پیدا کنند.

از سوی‌هم، رئیس سازمان صحی جهان برای افغانستان، تعهد سپرد که تلاش خواهد کرد تا هماهنگی دوامدار با وزارت صحت عامه داشته باشد و خدمات مورد نیاز را مطابق با پالیسی‌ها و اولویت‌های این وزارت تنظیم و ارائه نماید.

**The Minister of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan, Noor Jalal Jalali, held a meeting in his office with the Head of the World Health Organization for Afghanistan, Edwin Ceniza Salvador, along with officials from the organization and other representatives, to discuss key issues and review matters of mutual interest.**

During the meeting, the participants held discussions on the expansion of health services, capacity building initiatives, the development of cancer-related services, operational coordination, transparency in services, and the agenda and arrangements for upcoming meetings, along with other related matters.

The Minister of Public Health stressed the importance of the ministry's national policy and strategic documents, stating that health services and projects should be implemented in line with these documents while taking into account the priorities and needs of the Ministry of Public Health.

The Minister also called on officials of the World Health Organization to pay greater attention to transparency and strengthen coordination, and to take necessary measures to improve the quality of health services and ensure public access to healthcare services.

Meanwhile, the Head of the World Health Organization for Afghanistan reaffirmed his commitment to maintaining close coordination with the Ministry of Public Health and to organizing and delivering essential services in accordance with the ministry's policies and priorities.




## بادغیس ولایت کې د توبرکلوز (نري رنځ) ناروغۍ د تشخیص او خدماتو پیاوړتیا په موخه د جن‌اکسپرت ماشینونو نوي ماډلونه واخیستل شول

دغه ماډلونه چې د 27’880 امریکایي ډالرو په ارزښت د UNDP دفتر له لوري اخیستل شوي؛ د بادغیس ولایتي، د بالامرغاب، غورماچ او جوند ولسوالیو په روغتونونو کې نصب او فعال شول.

اوس مهال د بادغیس ولایت عامې روغتیا ریاست د توبرکلوز د کنټرول مدیریت په 11 مرکزونو کې د توبرکلوز د تشخیص او درملنې خدمتونه وړاندې کوي او د درملو پر وړاندې د مقاومو ناروغانو د درملنې لپاره یو ځانګړی سایټ(PMDT) هم لري او همدارنګه، په دغو مرکزونو کې د پرمختللې جن‌اکسپرت ټکنالوژۍ په کارولو سره د ناروغانو تشخیص او تخصصي درملنه هم تر سره کېږي.

د یادونې وړ ده، چې د دغو نویو ماډلونو نصبول د توبرکلوز د چټک تشخیص ښه والي، روغتیایي خدمتونو ته د ناروغانو لاسرسي زیاتوالي او بادغیس ولایت کې د توبرکلوز د کنټرول پروګرام د پیاوړتیا برخه کې یو مهم ګام بلل کېږي.

## به منظور تقویت خدمات تشخیص بیماری توبرکلوز در ولایت بادغیس، مودل‌های جدید ماشین‌های جن اکسپرت خریداری گردید

این مودل‌ها به ارزش مجموعی 27’880 دالر امریکایی از سوی دفتر UNDP خریداری شده و در شفاخانه های ولایتی بادغیس، ولسوالی بالامرغاب، ولسوالی غورماچ و ولسوالی جوند نصب و فعال گردید.

در حال حاضر مدیریت کنترول توبرکلوز ریاست صحت عامه ولایت بادغیس در 11 مرکز تشخیص و تداوی توبرکلوز و یک سایت تداوی بیماران مقاوم دوایی(PMDT) فعالیت داشته و خدمات تشخیصی را با استفاده از تکنالوژی پیشرفته جن‌اکسپرت و تداوی تخصصی به گونه رایگان برای بیماران ارائه می‌نماید.

قابل تذکر است که نصب این مودل‌های جدید گام مهمی در راستای بهبود تشخیص سریع توبرکلوز، افزایش دسترسی بیماران به خدمات صحی و تقویت برنامه کنترول توبرکلوز در ولایت بادغیس محسوب می شود.

## Badghis Province Strengthens Tuberculosis Diagnosis with New GeneXpert Machines

These machines, purchased by the UNDP office at a cost of $27,880, have been installed and activated in hospitals in Badghis province, including Bala Murghab, Ghormach, and Jowand districts.

Currently, the Badghis Provincial Public Health Directorate provides tuberculosis diagnosis and treatment services at 11 centers. It also has a dedicated site (PMDT) for treating drug-resistant patients, where advanced GeneXpert technology is used for patient diagnosis and specialized treatment.

Notably, the installation of these new machines is considered an important step in improving rapid tuberculosis diagnosis, increasing patients’ access to health services, and strengthening the tuberculosis control program in Badghis province.



## د اکمال تخصص پروګرام د پرمختګ څارنې دریم پړاو په ستوماتولوژي او ایریناسلیمي روغتونونو او د عدلي طب خدماتو کې ترسره شو

دا څارنه د متخصصو ټرینرانو او ټریني ډاکټرانو د ستونزو او د اکمال تخصص پروګرام د ټرینګ نیمګړتیاوو معلوملو په موخه د اکمال تخصص لوی ریاست اړوند عملیاتي ریاست د څارنې ټیمونو له لوري په ستوماتولوژي او ایریناسلیمي روغتونونو او د عدلي طب خدماتو کې ترسره شوه.

په پیل کې یادو ټیمونو د دغو روغتونونو له مسؤلینو سره د اکمال تخصص پروګرام د معیاري کولو په اړه خبرې وکړې او د اکمال تخصص لوی ریاست موخو ته د رسېدو او د پروګرام د معیاري کولو پر اهمیت یې ټینګار وکړ.

سربېره پر دې، د لاندې موضوعاتو پر اهمیت هم خبرې ترسره شوې، لکه: (د کریکولم تطبیق، علمي کـــنفرانسونه ،Logbook د ناروغ پر بستر تدریس (Bedside Teaching) Morning Report، Morning Visit، او Case Presentation)

؛ څکه دغه موضوعات د ډاکټرانو د علمي
کچې او مسلکي وړتیاوو په لوړولو کې اساسي رول لري.

د یادونې وړ ده، چې دا بهیر د مرکز په ټولو تخصصي روغتونونو، ولایتونو او همدارنګه په متممو خصوصي مرکزونو (نظامي او خصوصي تخصصي مرکزونو) کې هم د تطبیق وړ دی.

## دور سوم نظارت از پیشبرد برنامه اکمال تخصص در شفاخانه های تخصصی ستوماتولوژی، ایریناسلیمی و خدمات طب عدلی صورت گرفت

این نظارت به خاطر دریافت مشکلات ترینر متخصصین، داکتران ترینی و خلا های برنامه ترینګ اکمال تخصص، توسط تیم های نظارت ریاست عملیاتی ریاست عمومی اکمال تخصص در شفاخانه های ستوماتولوژی، ایریناسلیمی و خدمات طب عدلی صورت گرفت.

در نخست تیم های متذکره در مورد استندرد سازی برنامه اکمال تخصص با مسوولان این شفاخانه صحبت نموده و در مورد معیاری سازی برنامه اکمال تخصص و رسیدن به اهداف ریاست عمومی اکمال تخصص صحبت نمودند.

علاوه برآن در این نشست روی اهمیت موضوعات ذیل از جمله تطـــــــــــــــــــبیق کریکولوم ازقبیل کنفرانس علمی، (Logbook، bedside teaching ،Morning report، Morning visit ، Case presentation )

نیز صحبت نمودند. چون این موضوعات در ارتقاء سطح دانش و توانایی مسلکی داکتران نقش اساسی دارد.

قابل ذکراست که، این روند در تمام شفاخانه های تخصصی مرکز ولایات و مراکز تخصصی متمم (نظامی و خصوصی تخصصی) نیزقابل تطبیق می باشد

## Third Phase of Specialty Program Monitored at Stomatology National Curative and Specialized Hospital, Irina Salemi Hospital, and Forensic Medicine Directorate

Monitoring by the Operational Department under the Directorate General for Postgraduate Medical Studies , was conducted at the Stomatology National Curative and Specialized Hospital, Irina Salemi Hospital, and Forensic Medicine Directorate to identify challenges faced by trainers, trainee doctors, and gaps in the specialized training program.

The teams initially met with hospital officials to discuss standardizing the Specialty Program and emphasized achieving its objectives and maintaining standards.

The teams discussed the importance of topics such as curriculum implementation, scientific conferences, logbooks, bedside teaching, morning reports, morning visits, and case presentations, as these play a key role in enhancing doctors' knowledge and professional skills.

This process is applicable in all specialized hospitals, provincial facilities, and affiliated military and private centers





## د ایډز، جنسي ناروغیو او هیپاټایټس د کنټرول او مخنیوي لارښودونو د بیا کتنې تخنیکي غونډه تر سره شوه

دا غونډه د عامې روغتیا وزارت د ایډز، جنسي ناروغیو او هیپاټایټس د کنټرول ملي پروګرام له لوري ترسره شوه، چې په کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئیسانو، د ملي او نړیوالو ادارو او تطبیق کوونکو مؤسسو استازو ګډون کړی و.

د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وویل:( دا لارښود د خدماتو د کیفیت ښه والي او د ایډز او هیپاټایټس ناروغانو د وضعیت ښه مدیریت لپاره له تاسو سره شریک شوی دی، چې خپل تخنیکي نظرونه، وړاندیزونه او تجربې له موږ سره شریکې کړئ، تر څو دا لارښود د ملي او نړیوالو معیارونو سره سم په ښه توګه چمتو او تطبیق شي).

ښاغلي مرستیال همدا راز، د عامې روغتیا وزارت له لوري د ایډز او هیپاټایټس د کنټرول برخه کې د ترسره شویو هڅو یادونه وکړه، او و یې ویل دا هڅې لا کافي نه دي او له نړیوالو همکارانو یې وغوښتل، چې په دې برخه کې د عامې روغتیا وزارت سره همکاري وکړي.

سربېره پر دې، د عامې روغتیا وزارت د ایډز، جنسي ناروغیو او هیپاټایټس د کنټرول ملي پروګرام تخنیکي همغږي کوونکي، ډاکټر محمدالله نورزاده او د پروګرام یو شمېر نورو همکارانو د پرېزینټېشنونو په ترځ کې د لارښود د بیاکتنې، د خپلو ادارو د فعالیتونو، ستونزو، حل لارو او وړاندیزونو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.

همدارنګه، د ملي او نړیوالو ادارو او تطبیق کوونکو مؤسسو استازو د یاد لارښود د ښه والي په اړه خپلې نظرونه شریک کړل، چې په پای کې د عامې روغتیا وزارت د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لوی رئیس، ډاکټر حیدر خان حیدر د غونډې عمومي پایلې وارزولې او ژمنه یې وکړه، چې د یاد لارښود د ښه والي لپاره به د هغوی نظرونه په اغېزمنه توګه وکارول شي.

## نشست تخنیکی به خاطر مرور و بازنگری رهنمود کنترول و جلوگیری از بیماری های جنسی ایدز و هیپاتیتس برگزار شد

این نشست، از سوی پروگرام ملی کنترول بیماری های جنسی ایدز و هیپاتیتس وزارت صحت‌عامه برگزار شد، که در آن محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، رییسان مرکزی این وزارت، نماینده گان ادارات ملی و بین المللی و موسسات تطبیق کننده اشتراک داشتند.

در این نشست محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی گفت: ( این رهنمود به خاطر بهبود کیفیت خدمات و مدیریت بهتر برای رسیده گی به وضعیت صحی بیماران ایدز و هیپاتیتس، با شما شریک ساخته شد، تا نظریات تخنیکی، پیشنهادات و تجربیات تان را با ما شریک نمایید، تا باشد این رهنمود بهبود و مطابق معیارات ملی و بین المللی آماده و قابل تطبیق گردد).

علاوه بر آن محترم معین عرضه خدمات صحی، از تلاش های وزارت صحت‌عامه برای کنترول بیماری‌های  ایدز و هیپاتیتس یاد آوری نمود،  و از همکاران بین‌المللی نیز خواست تا در این را ستا با وزارت صحت‌عامه همکاری نمایند.
همچنان در این نشست، داکتر محمدالله نورزاد هماهنگ کننده تخنیکی، پروگرام ملی کنترول بیماری های جنسی ایدز و هیپاتیتس وزارت صحت‌عامه و همکاران دیگر این پروگرام، در پرزنتیشن های، بازنگری این رهنمود، کارکردهای ادارات شان در این مورد، چالش ها، راه های حل و پیشنهادات شان به اشتراک کننده گان معلومات ارایه نمودند.
از سوی‌هم، نماینده گان ادارات ملی و بین المللی و موسسات تطبیق کننده نظریات شان را در مورد بهبود رهنمود و کنترول بیماری جنسی ایدز و هیپاتیتس ارایه نمودند، که در اخیر این نشست توسط داکتر حیدر خان حیدر رییس عمومی طب وقایه و کنترول امراض وزارت صحت‌عامه، جمع بندی و از آنان ابراز تشکری نموده افزود، که به خاطر بهبود این رهنمود از نظریات آنان استفاده موثر صورت خواهد گرفت.



**Afghanistan's Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, attended the inaugural meeting of the National Cancer Control Program's Leadership and Management Board at his office.**

The meeting was attended by Sheikh Mohammad Taher Halim, Chief of Staff of the Ministry of Public Health; Dr. Aminullah Momand, Director of Specialized and Tertiary Hospitals; officials of the National Cancer Control Program; ministry advisors; and board members. Discussions focused on improving the organization, coordination, and development of the program.

The Minister of Public Health emphasized the importance of the National Cancer Control Program's Leadership and Management Board, describing cancer as a serious global health challenge and calling for organized and effective measures for its prevention, diagnosis, and treatment.

His Excellency Jalali also stressed the need to expand cancer-related health services, ensure better management of international support, and strengthen services at the National Hospital for Cancer Diagnosis and Treatment in Kabul to better meet patients' needs. According to the minister, efforts will be made in the future to extend cancer services beyond the capital to the provinces.

The minister urged board members to provide their professional guidance and recommendations to ensure the set goals of the National Cancer Control Program are achieved, enhancing the program's effectiveness and delivering better health services to the public.

The meeting also outlined the board's responsibilities and presented a prepared document detailing plans for expanding cancer diagnosis and treatment services, providing necessary equipment, building staff capacity, and financing these activities.

Notably, the National Cancer Control Program's Leadership and Management Board aims to strengthen cancer prevention, diagnosis, and treatment services and provide high-quality healthcare to the public, with efforts in this area set to increase.

**د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د سرطان د کنټرول ملي پروګرام د رهبرۍ او منېجمېنټ بورډ په لومړۍ ناسته کې ګډون وکړ**

په دغه ناسته کې چې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس شیخ محمد طاهر حلیم ، د تخصصي او ثالثي روغتونو رئیس ډاکټر امین الله مومند د سرطان د کنټرول ملي برنامې مسؤولینو ، د مقام مشاورینو او د جوړ شوي بورډ غړو شتون درلود د یاد پروګرام د لا ښه تنظیم، همغږۍ او پراختیا په موخه خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتیا وزیر د سرطان د کنټرول ملي پروګرام د رهبرۍ او منېجمېنټ بورډ د جوړېدو پر اهمیت خبرې وکړې او ویې ویل چې د سرطان ناروغي د نړۍ په کچه له جدي روغتیایي ستونزو څخه شمېرل کېږي، نو اړینه ده چې د دې ناروغۍ د مخنیوي، تشخیص او درملنې لپاره منظم او اغېزمن ګامونه پورته شي.

نوموړي همدارنګه زیاته کړه چې د سرطان اړوند روغتیایي خدمات باید پراخ شي ، د نړیوالو له لوري کیدونکې مرستې په دې برخه کې ښه مدیریت شي او په مرکز کابل کې د سرطان د تشخیص او درملنې ملي روغتون خدمات لا پیاوړي شي، تر څو د ناروغانو اړتیاوو ته په ښه ډول رسېدنه وشي ، د ښاغلي وزیر په وینا، په راتلونکې کې به هڅه وشي ،چې د سرطان اړوند خدمات یوازې په مرکز پورې محدود پاتې نه شي بلکې ولایتونو ته هم وغځول شي.

ښاغلي وزیر د بورډ له غړو وغوښتل چې د سرطان د ملي پروګرام لپاره ټاکل شوو اهدافو د پلي کېدو په موخه خپلې مسلکي لارښوونې او سپارښتنې وړاندې کړي، څو د پروګرام د اغېزمنتیا کچه لوړه شي او خلکو ته غوره روغتیایي خدمات وړاندې شي.

همدارنګه په دې ناسته کې د بورډ مسؤولیتونه ، د سرطان د تشخیص او معالجوي خدماتو د پراختیا، د اړینو تجهیزاتو د برابرولو، د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو او د یادو فعالیتونو د تمویل په اړه تیار کړل شوی سند تشریح شو.

د یادونې وړ ده چې د سرطان د کنټرول د ملي پروګرام د رهبرۍ او منېجمېنټ بورډ موخه د سرطاني ناروغیو د مخنیوي، تشخیص او درملنې د خدماتو پیاوړتیا او د خلکو لپاره د باکیفیته روغتیایي خدماتو برابرول دي چې په دې برخه کې به هڅې لا زیاتې شي





## د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او مل پلاوي تېر ماښام په احمدشاه بابا روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتيايي خدماتو له بهير څخه ليدنه ترسره کړه

د دې ليدنې په ترځ کې ښاغلي مرستيال، د روغتيايي کارکوونکو هڅې وستايلې او د ناروغانو د ستونزو حل او د خدمتونو د کيفيت لوړولو په موخه يې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

ښاغلي مرستيال وويل: (هر روغتيايي کارکوونکی بايد خپل مسؤليتونو ته پاملرنه وکړي او خپلې دندې په بشپړ صداقت سره ترسره کړي).

همدارنگه، د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال له ناروغانو او ،مراجعينو سره هم ليدنه وکړه، د هغوی د روغتيا هيله يې څرگنده غوښتنې يې واورېدې او د بشپړې پاملرنې ډاډ يې ورکړ.

## محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، و هیئآت همراهش شام گذشته از روند ارائه خدمات صحی در شفاخانه احمدشاه بابا دیدار نمودند

در جریان این دیدار، محترم معین عرضه خدمات صحی از تلاش‌های کارمندان صحی قدردانی نموده و برای حل مشکلات بیماران و بهبود کیفیت خدمات، توصیه‌های لازم را ارائه کرد.

وی گفت: « هر کارمند صحی باید به مسئولیت‌های خود توجه داشته باشد و وظایفش را با صداقت کامل انجام دهد.


همچنان، محترم معین عرضه خدمات صحی، با بیماران و مراجعین نیز دیدار نموده، برای آنان آرزوی سلامتی کرد، وی خواسته‌های‌آنان را شنید و اطمینان داد که به مشکلات آنان رسیده گی کامل صورت خواهد گرفت.

**Last evening, the Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, and his team visited Ahmad Shah Baba Hospital to observe the delivery of healthcare services.**

During the visit, the deputy minister praised the efforts of healthcare staff and provided guidance to address patient issues and improve the quality of services.

H.E Haqqani said, “Every healthcare worker must take responsibility seriously and perform their duties with complete integrity.”

The Deputy Minister for Health Services also met with patients and visitors, heard their concerns, expressed hope for their health, and assured them of full attention and care.













**د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي تېر ماښام وزير محمد اکبر خان ملي او تخصصي روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتيايي خدماتو له بهير څخه ليدنه ترسره او له روغتيايي کارکوونکو سره يې روژه ماتی وکړ**

په دې ليدنه کې چې د مقام د دفتر لوی رئيس الحاج شيخ محمد طاهر حليم، د مقام مشاورينو او يو شمېر مرکزي رئيسانو يې هم ملتيا کوله، د عامې روغتيا وزير په ياد روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتيايي خدماتو له بهير څخه د ليدنې پر مهال د روغتيايي کارکوونکو هڅې وستايلې او هم يې ورته لازمې لارښوونې وکړې، چې د ناروغانو د ستونزو په حل او د روغتيايي خدماتو کيفيت لوړولو کې لا زياتې هڅې ترسره کړي.

ښاغلي وزير ټينګار وکړ، هر روغتيايي کارکوونکی مکلف دی، چې خپل ايماني او وجداني مسؤليت په غوره ډول اداء کړي او ترې ويې وغوښتل، خپلې دندې په بشپړ صداقت سره ترسره کړئ.

همدارنګه، ښاغلي وزير له روغتيايي کارکوونکو، ناروغانو او مراجعينو سره په ليدنه کې د هغوی غوښتنې واورېدې او د بشپړې پاملرنې ډاډ يې ورکړ.

همداراز، د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس، شيخ محمد طاهر حليم روغتيايي کارکوونکي لا زياتو خدماتو ته وهڅول او د هغوی ترسره کړې خدمات يې وستايل.

د يادونې وړ ده، چې د عامې روغتيا وزارت رهبرۍ د روژې پر مهال له روغتيايي مرکزونو د ليدنې موخه د روغتيايي کارکوونکو د هڅو قدرداني او د خدماتو له څرنګوالي څخه معلومات ترلاسه کول دي؛ څو د هېواد هر وګړي ته معياري روغتيايي خدمات وړاندې شي.

**محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامهٔ ۱.۱.۱، شام گذشته از روند ارائهٔ خدمات صحی در شفاخانه ملی و تخصصی وزیر محمد اکبر خان بازدید نموده و با کارکنان صحی افطار کرد**

در این بازدید که با حضور الحاج شیخ محمد طاهر حلیم رئیس عمومی دفتر مقام، مشاوران مقام وزارت و شماری از رؤسای مرکزی نیز همراهی می‌کردند، محترم وزیر صحت عامه تلاش‌های کارکنان صحی را ستوده و برای آنان رهنمودهای لازم ارائه نمود تا در حل مشکلات بیماران و ارتقاء کیفیت خدمات صحی تلاش‌های بیشتری انجام دهند.

محترم وزیر صحت‌عامه تأکید کرد که هر کارمند صحی مکلف است مسئولیت ایمانی و وجدانی خود را به بهترین شکل ادا نماید و از آنان خواست وظایف خویش را با صداقت کامل انجام دهند.

همچنان، محترم وزیر صحت‌عامه با کارکنان صحی، بیماران و مراجعین دیدار نموده، خواست‌ها و نیازهای آنان را شنید و اطمینان داد که به آنها رسیده‌گی کامل صورت خواهد گرفت.

علاوه بر آن، شیخ محمد طاهر حلیم رئیس عمومی مقام دفتر وزارت صحت عامه، کارکنان صحی را به ارائهٔ خدمات بیشتر تشویق کرد و خدمات انجام‌شده آنان را ستود.

قابل یادآوری است که هدف از بازدیدهای رهبری وزارت صحت عامه از مراکز صحی در جریان ماه رمضان، قدردانی از تلاش‌های کارکنان صحی و آگاهی از نحوهٔ ارائهٔ خدمات می‌باشد؛ تا برای هر شهروند کشور خدمات صحی معیاری فراهم گردد.



## بغلان ولایت کې 6 ټنه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي او درمل له منځه یوړل شول

## به مقدار 6 تُن مواد غذایی و ادویه جات تاریخ گذشته و بی‌کیفیت در ولایت بغلان حریق گردید

د بغلان ولایت عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې آمریت مسؤلینو د 1404 هـ ش کال په څلورو ربعو کې د دې ولایت د پلخمرې ښار له بېلا بېلو سیمو څخه 6 ټنه له نېټې تېر او بې‌کیفیته خوراکي توکي او درمل راټول کړي وو، چې د ټاکل شوي پلاوي په شتون کې له منځه یوړل شول.

په دې توکو کې (1067) قلمه له نېټې تېر درمل او 38 قلمه بې کیفیته خوراکي توکي شامل وو، چې ټولیز ارزښت یې (735037) افغانۍ ته رسېږي.

همدارنګه، په دې توکو کې د کینګ په نوم یو قلم چاکلیټ، چې د لابراتواري معایناتو پایلې یې منفي ثابتې شوې وې، هم له منځه یوړل شول.

مسوولان آمریت نظارت و بازرسی ریاست صحت‌عامه ولایت بغلان، در چهار ربع سال 1404 به مقدار 6 تُن مواد غذایی وادویه جات تاریخ گذشته و بی‌کیفیت را از ساحات مختلف شهر پلخمری این ولایت جمع‌آوری نموده بودند که امروز با حضور هیئآت موظف حریق گردید.

در این میان به تعداد 1067 قلم ادویه تاریخ گذشته و 38 قلم مواد غذایی بی‌کیفیت شامل بود که ارزش مجموعی آنان به 735037 افغانی می رسد.

همچنان 1 قلم مواد غذایی به نام «کینگ» که نتایج معاینات لابراتواری آن منفی تثبیت گردیده بود، نیز شامل مواد حریق شده می باشد.

## Baghlan Province Destroys Six Tons of Expired and Substandard Food and Medicines

Officials from the Monitoring and Inspection Directorate of Baghlan Provincial Public Health Directorate collected six tons of expired and substandard food and medicines from various areas of Pol-e-Khumri city during the four quarters of 1404 HS. The items were destroyed in the presence of a designated committee.

The items included 1,067 expired medicines and 38 substandard food products, with a total value of 735,037 Afghanis.

Additionally, one chocolate item branded “King Coco” which tested negative in laboratory examinations, was also destroyed.